# د افغانستان اوونيز ساحوي راپور

## د ۲۰۱۸ کال د جون د مياشتي له ۴ څخه ن تر ۱۰ نېټې پورې

## په تېره اونۍ کې مهمې پېښې

- **د لومړنويو راپورونو له مخې په ټول هيواد کې ۸۶۰۰ وګړي د جګړو له امله بيځايه شوي دي.**
- **په تيره اونۍ کې له ۹۵۰۰ څخه زيات وګړي خپل هيواد ته راستانه شوي دي.**
- **د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د مخنيوي فرعي کاري ډلې د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي له ۲۴۴ ژغورل شويو سره مرستې وکړې.**
- **شاوخوا ۲۰ بشري مرستندويه ادارو په ټول هيواد کې له ۴۰۰۰۰ زيامنو وګړو سره بشري مرستې وکړې .**

| ۸۶۰۰ | ۴۰۰۰۰ | ۱۲۷۰۴۵ |
|---|---|---|
| په تيره اونۍ کې د تازه بيځايه شويو په اړه راپور | په تيره اونۍ کې له زيامنو سره شوی مرستې | په ۲۰۱۸ کل کې ټول تصديق شوي بيځايه شوی |




### په هېواد کې د جګړو له کبله بېځايه کېدنه

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د ادراې د بيځايه شويود تعقيب په سيستم DTS کې د ۲۰۱۸ کال له پيل راهيسې د ۱۲۷۰۴۵ بيځايه شويو شميره ثبت شوې، چې ده تيرې اونۍ پر پرتله ۱۰۰۰۰ زياتوالی ښيي . د DTS په سيستم کې ارزول شوې بېځايه کيدنه ثبت کيږي.

### بيځايه کيدنې په اړه خبرتيا:(نقشه وګورئ)

د بيځايه کيدنې په اړه خبرتيا له ساحې څخه د چارواکو او بشري فعالانو د ورکړل شويو لومړنيو معلوماتو پر بنسټ وي . په دې شمېرو کې د لا زياتو معلوماتو د لاسته راتلو په صورت کې بدلون راتلای شي .

**ختيځ زون:** د ننګرهار ولايت د هسکې مينې په ولسوالۍ کې د روانو پوځي عملياتو له امله شاوخوا ۳۵۰۰ وګړي بېځايه شوي دي. همدارنګه له سيمې څخه د لومړنيو راپورونو پر اساس په پچيراګام ولسوالۍ کې هم ۳۰۰ وګړي بيځايه شوي دي. د چارواکو د معلوماتو له مخې په کنړ، نورستان او ننګرهار کې له ۲۶۰۰ څخه زيات وګړي د ناامنيو او ګواښونو له امله بيځايه شوي دي.

**شمال/ شمال ختيځ زونونه:** په تيره اونۍ کې د پام وړ بيځايه کيدنه نده رامنځته شوې. په بدخشان، بغلان ، فارياب ، جوزجان ، کندز ، سرپل او تخار کې له ۴۸۰۰ څخه زيات تازه بيځايه شوي وګړي د بشرې ارزونې په جريان کې زيامن پيژندل شوي اودوی ته د بشري مرستو د ورکولوسپارښتنه شوې ده.

**سويلي زون:** د افغان امنيتي ځواکونو او وسلوالو ډلو ترمنځ د روانو جګړو له امله شاوخوا ۹۰۰ وګړي په روزګان کې ، ۱۱۲۵ په هلمند کې او ۳۷۵ په زابل کې بيځايه شوي دي.

### طبعي پېښې او وچکالي:

**ختيځ زون:** دننګرهار د کامې ولسوالۍ په زاخيلو کلي کې د کنړ د سيند د اوبو د کچې د لوړيدو له امله شاوخوا ۱۴۰۰ وګړي زيامن شوي دی. .
**شمال او شمال لوديځ زون:** د بدخشان ولايت مرکز فيض آباد کې له ۱۶۰ څخه زيات وګړي د سيلابونو له امله زيامن پيژندل شوي دي.
**لوديځ زون:** د بادغيس ولايت په آب کمري او مقر ولسواليو کې ۲۲۰۰۰ سيلاب ځپلو وګړو سره په نږدې راتلونکي کې بشري مرستې ووشي.
چارواکي به د وچکالۍ ځپلو کورنيو د لاس نيوي په موخه د بادغيس ولايت په شيړو ولسواليو کې په نږدې راتلونکي کې د غنمو رسول پيل کړي.

**راستنيدونکي او کډوال** : د جون له ۳ نيټي څخه تر ۹ نېټې پورې ۹۵۸۴ کډوال له بهر څخه خپل هيواد ته راستانه شوي دي. د IOM د معلوماتو له مخې له پاکستان څخه ۲۱۳ وګړي په خپله خوښه راستانه شوي اوهمدارنګه له ايران څخه ۲۰۶۹ وګړي په خپله خوښه راستانه شوي او ۷۰۹۳ وګړي په زوره راشړل شوي
د UNHCR د معلوماتو له مخې په تيره اونۍ کې ۷۹ له پاکستان ، ۱۹ له ايران او يو(۱) وګړی له نورو هېوادو څخه له راستانه شوي وو.

### د کاري ډلو يا کلسترونه له خواه تازه معلومات

د روغتيا د کاري ډلې فعالانوپه تيره اونۍ کې په ختيځ زون کې د ۳۷۰۰ بيځايه شويو او راستنوشويووګړوته روغتيايی مشورې ورکړې او ۴۰۰ ماشومان يې واکسين کړل.
**د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي د مخنيوي فرعي کاري ډلې** ، په تيره اونۍ کې له ۶۲۰۰ څخه زياتو زيامنو ته لاسرسی موندلی ده . چې د هغوی له ډلې ۲۴۴ ښځينه د جنسيت پر بنست د تاوتريخوالي ښکار شوې وې .

### امنيتي پېښې او بشري لاسرسی

د بادغيس ولايت په جوند او بالامرغاب ولسواليو کې وسلوال مخاليفينو روغتيايی مرکزونو ته د درملو په عرضه کولو بنديز لګولي چې له امله په دې ولسواليو کې د روغتيايی خدمات اغيزمن شوي دي . اود غور په ساغر ولسوالۍ کې وسلوالو مخاليفيونو، روغتيايی کارکوونکو ته د روغتيايی مزکزون سره په خوا کې د ټولټاکنو د مرکزنو د جوړيدو له امله ګوت ځنډنه کړې ده.

### روانومرستو فعاليتونه *(مهرباني وکړئ د لازياتو معلوماتو لپاره دويم مخ هم وګورئ)*

د تيرې اوونۍ به جريان کې په ټول هيواد کې له ۴۰۰۰۰ څخه زياتو بې ځايه شويو ، راستانه شويو کډوالو، کوربه کورنيو او د طبعي پيښو څخه اغيزمنوته بشري مرستې رسول شوې او يايي د روغتيا په اړه د عامه پوهاي په پروګرامو کې ګډون کړی ده.
د اوچا ادارې له بادغيس، بغلان، فراه ، غور، هرات ، کابل خوست ، کنړ، کندز، لغمان ، ننګرهار، نورستان او تخار څخه د مرستو د ويش او نور کړنو په اړه معلومات ترلاسه کړي دي . هغه ادارې چې مرستې يې کړې دي په هغو کې ACTED, Aghanaid, ANDMA,CWS, DACAAR, IMC, IOM, IRC, Mission East, NCOR, NRC OXFAM, PU-AMI, IR, SCI, UNHCR, UNICEF, CoAR, او WPF شاميلې دي.

په تيره اونۍ کې د کورني بېځايه شويو وګړو سره په زونونو کې د سيکتور پر بنسټ ترسره شوي مرستي

| Region | Cluster | Response Type | People Assisted | Partners |
|---|---|---|---|---|
| Capital | ESNFI | Cash | 210 | , DRC |
| Capital | FSAC | Cash for food | 210 | , DRC |
| Capital | WASH | Hygiene kits | 210 | , DACAAR |
| Southern | ESNFI | Cash | 3136 | , IRC |
| Southern | FSAC | Cash for food | 3136 | , WFP |
| Southern | WASH | Hygiene education | 2422 | , UNICEF |
| Southern | WASH | Hygiene kits | 2709 | , ACF, UNICEF |
| Southern | WASH | Other | 2422 | , UNICEF |
| Southern | WASH | Water containers | 2422 | , UNICEF |
| Southern | WASH | Water treatment tablet | 2422 | , UNICEF |
| Western | ESNFI | Cash | 684 | , IRC, NRC |
| Western | ESNFI | NFI Kits (Complete) | 2258 | , DRC, UNHCR |
| Western | ESNFI | Tents | 6 | , UNHCR |
| Western | FSAC | Food Package | 2111 | , NRC, WFP |
| Western | MPC | Cash | 308 | , NRC |
| Western | MPC | Unconditional cash | 3716 | , DRC, NRC |
| Western | WASH | Chlorine | 558 | , IRC |
| Western | WASH | Emergency latrines | 329 | , IRC, WVI |
| Western | WASH | Female hygiene kits | 312 | , UNHCR |
| Western | WASH | Hygiene education | 1195 | , DACAAR, IRC |
| Western | WASH | Hygiene kits | 1339 | , DACAAR, WVI |
| Western | WASH | Water treatment tablet | 378 | , IRC |

په ۲۰۱۸ کې د سيکتورونو پر بنسټ تر سره شوي مرستي




په ۲۰۱۸ کال کې په هره اونۍ کې له بېځايه شويو سره تر سره شوي




**Acronyms:** ACF, Action Against Hunger | AA, Afghan Aid | AFN, Afghan Afghani | ANDMA, Afghanistan National Disaster Management Authority | ANSF, Afghan National Security Forces | ARCS, Afghan Red Crescent Society | CWSA, Community World Service Asia | DAC, District Administrative Centre | BPHS, Basic Package of Health Services | DACAAR, Danish Committee for Aid to Afghan Refugees | DoRR, Directorate of Refugees and Repatriation | DRA, Dutch Relief Alliance | DRC-DDG, Danish Refugee Council - Danish Demining Group | ICRC, International Committee of the Red Cross | IDP, Internally Displaced Person | IMC, International Medical Corps | IOM, International Organization for Migration | IRC, International Rescue Committee | NFI, Non-food item | NRC, Norwegian Refugee Council | NSAG, Non-State Armed Group | OCT, Operational Coordination Team | OHC, Organization for Humanitarian and Development | PIN, People In Need | PU-AMI, Première Urgence - Aide Médicale Internationale | SCI, Save the Children International | SHPOUL, Sound Humanitarian, Participatory & Organizational Uplift | SI, Solidarités International | SVA, Shanti Volunteer Association | UNHCR, Office of the United Nations High Commissioner for Refugees| UNICEF, United Nations Children's Fund | WASH, Water, Sanitation and Hygiene | WFP, World Food Programme |

**مخففات:** د لوږې پر وړاندې د غبرګون اداره (ACF) | افغان ايډ (AA) | افغان افغانۍ (AFN) | د طبيعي پيښو د مديريت په برخه کې د دولت وزارت (ANDMA) | افغان ملي امنيتي ځواکونه (ANSF) | د افغاني سرې مياشتې عالي ټولنه (ARCS) | د اسيا د کلي او نړۍ خدمات (CWSA) | د ولسوالۍ اداري مرکز (DAC) | د روغتيايي خدمتونو بنسټيزه کڅوړه (BPHS) | له افغان کډوالو سره د ډنمارکۍ کمېټې مرستې (DACAAR) | د کډوالو او راستنيدونکو چارو رياست (DoRR) | د هالنډ خيريه ايتلاف (DRA) | د ډنمارک د کډوالو شورا – د ډنمارک د ماين پاکولو ګروپ -DRC) (DDG | کورني بېځايه شوي وګړي IDP | د کډوالو نړيواله موسسه (IOM) | نړيواله ژغورندويه کمېټه (IRC) | غيرخوراکي توکي (NFI) | د ناروې د کډوالو شورا (NRC) | غير دولتي وسله وال ځواکونه (NSAG) | د عملياتو د همغږۍ ټيم (OCT) | اړمن خلک (PIN) | لومړنۍ بېړنۍ مرستې – نړيوالي طبي مرستې (PU-AMI) | د ماشومانو د ژغورنې نړيواله موسسه (SCI) | سالم بشري، شراکتي او سازماني تعالي (SHPOUL) | د شانتي داوطلبه ټولنه (SVA) | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري(UNHCR) | د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF) | د خوړو نړيوال پروګرام (WFP).

***ژباړې: دغه رپوټ په انګريزي، پښتو او دري ژبو تر لاسه کېدای شي.***

د ژباړل شوي رپوټ د تر لاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ دا ترونی پرانيزئ _https://goo.gl/zgTZiK_ يا هم د خپل ګرځنده موبايل په مټ د QR-code سکن کړئ: